ليکوال او شنانند نظر محمد مطمئن ۲۰۲۱/۰۳/۳۰

# بايډن که ملا برادر؛ کوم يو جدي دی

د ماسکو ناستې ته تر ډيره تمې نه وې، پوازې د جوبايډن پر اداره او د بين الافغاني خبرو د چکټيا په موخه ناسته ترتيب شوې وه.
د ماسکو ناسته کې له افغان سياسي مشرانو سره د طالب مشرانو سوړ چلند هغوی لا زيات د راتلونکي په اړه نهيلي کړل، حامد کرزی، د اهل تشيع، تاجکو او ازبکو مشران فکر کوي چې طالبان بياځل د واک انحصار ته ځان چمتو کوي.
ماسکو غونډه کې د استاد سياف، عطاء نور، صلاح الدين رباني او تورن اسماعيل نه ګډون، د امريکا بدې ارادې ښيي.
د امريکا نوې اداره د پوځيانو ايستلو په اړه په تردد کې ده، که د وتلو او يا پاتې کېدو پريکړه کوي، پرته له شکه په دواړو کې يې تاوان دی، له همدې امله ده چې د سولې انتقالي حکومت تر نوم لاندې يې طرحه چمتو، تر څو د ترکيې غونډه کې طالبان او سياسي ډلې + حکومت ورباندې بحث او توافق ته نږدې شي.
طالبان انديښنه لري؛ که په نوې طرحه بحثونو کوي، د امريکا - طالبانو ترون بې معنی کيږي، او له تړون څخه بل لور ته مخ ګرځول دي، چې دا نوی بهير به بيا ډير وخت بحثونه او مذاکرات غواړي.
طالبان له لومړي سره په دې فکر و چې د افغان حکومت د بين الافغاني مذاکراتو ډله واک له ځان سره نه لري، مګر د ګاونډيو، سيمې او نړيوالو فشارونو له کبله يې ومنله چې له يو کمزوري پلاوي سره خبرو ته زړه نا زړه کيني.
امريکايي رسنيو راپور ورکړ چې بايډن غواړي تر مئ مياشت وروسته هم په افغانستان کې خپل پوځيان پريږدي، طالبانو دغه ډول څرګندونو ته سخت غبرګون وښود، ويې ويل که د امريکا - طالبانو تړون نه عملي کيږي، بهرني ځواکونه پر خپل وخت ونه وځي، د جګړې د شدت مسؤل به امريکا وي، او په امريکايي / ناټو ځواکونو به مرګوني بريدونه بياځلې پيل کړي. له دې سره به د طالبانو او افغان حکومت پلاوو تر منځ د بين الافغاني مذاکراتو پړ بهير هم په ټپه ودريږي.
جوبايډن به د امريکايي ځواکونو پر پاتېدو او يا وتلو کې مشکوک وي، خو ملا بردار بيا پدې کې قاطع دی چې د امريکايي ځواکونو پاتېدو په صورت کې به د بهرنيانو او افغان حکومت پر وړاندې جګړې ته شدت ورکړي او مذاکرات به سمدستي په ټپه ودروي.
بل لور به نظامي طالبانو ته د جګړې د شدت قوي دليل پيدا شي، د معلوماتو پر بنسټ؛ له تړون وروسته د طالبانو د قطر سياسي دفتر ډيري هڅې کړي چې نظامي طالبان د جګړو له شدت څخه را وګرځوي. که تړون مات شي دا به سخته وي چې د طالبانو او امريکا ترمنځ بياځل باور ورغول شي، دارنګه د نړيوالو اسلامي جنګياليو موضوع به هم نړی او امريکا ته سرخوږی پاتې وي.
افغان حکومت پخوانيو جنګسالارانو ته د وسلو ويش پيل کړی، په دې کې هند او د منځنی آسيا ځينې هيوادونه له حکومت سره مرسته کوي، په ازبکو کې قيصاري، هزاره و کې علي پور، او تاجکو کې احمد مسعود کيدای شي د کورنی جګړې نوي لوبغاړي وي.
که طالبان فکر کوي چې له ټولو مخالفو سياسي ګوندونو + حکومتي پوځيانو سر به پوازې له نظامي لارې موضوع يو طرفه کوي؛ هغه تيروتنه ده چې په ۱۳۷۱ ل کال کې حزب اسلامي وکړه، نه يې جګړه وګټله او نه يې په حکومت کې وړ برخه ترلاسه کړه.
امريکا او اروپا کرونا سخت ځپلي، غواړي د افغانانو ترمنځ جوړ جاړی وشي، په افغانستان کې د خپلو پوځيانو او افغان حکومت درانه مالي لګښتونو ته په انديښنه کې دي، مګر دا هم ورته سخته ده چې ټول واک او نظام دې طالبانو ته د طالبانو په خوښه وسپارل شي.
امريکا له روسيې، چين، ترکيې او ايران سره ستونزې لري، اوسمهال پوازې افغانستان د همدې متخاصمو هيوادونو لخوا پر يو بل د فشار په ډول کارول کيدای شي، په دغسې حالت کې طالبانو ته هم په کار ده چې د امريکا او نړی سترو قوتونو انديښنو ته وړ او نسبي قانع کوونکي وضاحتونه ولري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

که طالبان فکر کوي چې د امریکا/ناټو پوځیانو تر وتلو وروسته به په زور کابل ونیسي؛ کیدای شي، مګر چې نړۍ یې په رسمیت ونه پېژني، نړیوال ملاتړ ونه لري، سیاسي ګوندونه او لړکي له ځان سره ملګري نه کړي، پرته له شکه، په کور دننه او بهر به ډیرې ستونزې ورته پیدا شي. ښه به وي چې له امریکا، روسیې او چین سره مسلسل ناستې وشي او د هغوی اندیښنې لیرې کړي.
تر څو چې امریکا ډاډ تر لاسه نه کړي، ګرانه به وي چې بین الافغاني مذاکرات پایله ولري، کیدای شي د ګېوډۍ لور ته افغانان ولاړ شي، ښه به وي چې له دې موقع څخه ګټه پورته او امریکا وهڅول شي چې افغان حکومت + سیاسي ډلې هم جوړجاړي ته چمتو، خو چې طالبان هم بدلون او انعطاف ومني.
په کار وه چې د امریکا - طالبانو له تړون وروسته طالبانو امریکا او اروپا ته هم سفرونه کړي وای، د امریکا او اروپا په سیاست کې اغیز لرونکو ډلو او اشخاصو سره یې لیدني کړې وای، اوس هم اړتیا او ناوخته نده.
ډاکټر غني تر ډیره په خپله کمزوري حکمرانی کې بیا هم ځکه بریالی دی چې یو ډول یې امریکا او اروپا ویرولي چې له طالبانو سره د نړیوالو جوړجاړی یې ځنډولی. د طالبانو ۷۰۰۰ بندیان لا هم نه دي خوشې شوي، له تور لېست څخه د طالب مشرانو د نومونو لیرې کولو قضیه لاهم په خپل ځای پاتې ده او د ماسکو په څیر بې پایلې غونډو ګټې هم ډاکټر غني ته ځي.
وروستیو سیاسي حالاتو ته په کتلو ښکاري د ماسکو او چین سره هم د طالبانو په اړ اندیښنې مخ په زیاتیدو دي، ایران وار له مخه؛ د بین الافغاني مذاکراتو پخ بهیر، ماسکو کې له افغان سیاستوالو سره د طالبانو سوړ چلند، د ترکیې ناستې ته د طالبان نه لیوالتیا یې لاملونه کیدای شي.

**پایله:**
که امریکا/ناټو پوځیان له افغانستان څخه وځي او یا د لنډ وخت لپاره پاتې کیږي، تر څو چې افغانان خپلو منځو کې جوجاړي ته نه وي رسیدلي، بیاځل د کورنۍ جګړې ویره شته.
که د امریکا لخوا تړون ماتیږي، سمه ده چې د طالبانو ۷۰۰۰ بندیان به خلاص نه شي، له تورلسټ څخه به یې نومونه ونه وځي، مګر د امریکا په وړاندې به د طالبانو هغه ژمنه هم پای ومومي چې پر امریکایي او ناټو پوځیانو یې بریدونه تم کړي و او د افغانستان له خاورې به امریکا ته ګواښ نه وي. دارنګه امریکا به په یوه بې پایلې او نه ګټونکې جګړه کې ښکېله پاتې وي.
د ماسکو ناستې ګټه تر ډیره افغان حکومت ته ولاړه، د سیاسي ډلو مشران چې د طالبانو له سوړ چلند سره مخ شول اوس به مجبوراً د ډاکټر غني په خوا کې دریږي.
که د ترکیې په ناسته کې د امریکا لخوا جوړه شوې طرحه باندې بحثونه کیږي، بیا یې هم ګټه امریکا، افغان سیاسي ډلو او سیاستوالو ته ځي، طالبان پکې ګټونکې نه دي.
که د واک په عادلانه ویش، داسې نظام چې ټول افغانان پکې خپل ځان او حقونه خوندي ونه ګوري؛ په دې برخه کې ژور غور ونه شي، سخته به وي چې جګړه پای ومومي.
که د بین الافغاني خبرو له رسمي پېل وړاندې طالبانو د بین الافغاني خبرو پر چوکاټ او پر خپل محوریت د افغاني حل پر طرحې کار کړی وای، نن به د امریکا له خوا د انتقالي حکومت طرحه نه وړاندې کېدای.
په کار ده چې دغو اندېښنو ته په پام سره، طالبان له افغان سیاستوالو او پوهانو سره په مشورې له پاتې فرصت څخه ګټه پورته کړي او د افغان کشالې د سیاسي حل نسخه وړاندې کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ